

زما سوال
نیمګړی و!
لنډه کیسه
Ketabton.com
لیکوال
شرف الله تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معرفت

د ژانر ډول............................................. لنډه کیسه

د کیسې نوم.................................. زما سوال نیمګړی و!

لیکوال...............................................شریف الله تنها

د تلیفون شمیره..............................0093706996648

بریښنا لیک ..................shariftanha600@gmail.com

د واټساف شمیره..............................0093779385830

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زما سوال نیمګړی و!

کله چې مې د کانکور په ازموینه کې ګډون وکړ، همهغه وه چې بریالی شوم . په خوښۍ سره مې په درسونو پیل وکړ. وختونه لکه د باد تېرېدل، تر دې چې د لومړي او دویم سمستر ازموینې هم په خیر سره تېرې شوې.

یو وخت په کلي کې وم چې ټولګیوال مې راته زنګ وواهه راته یې وویل:
هلکه چېرته یې چې نه ښکارې ؟
ـ اشنا په کور کې یم ولې خیر شه!
ـ واوره چې خبر ووسې، سبا ته په پوهنتون کې ستاینغونډه(د ستاینلیکونو د ورکړې غونډه) ده هیله کوم چې هرو مرو راشې!

ما هم ورته د ورتګ ډاډ ورکړ. په سبا ورځ پوهنتون ته لاړم استادان،شاعران او نور مېلمانه هم راغلي وو.غونډه پیل شوه تر دوه درې ساعتو وروسته ممتازو زده کړیالانو ته د ستاینلیکونو په ورکولو سره پای ته ورسېده . د هغه وخت د دود او دستور مطابق ټولو ملګرو ممتازو زده کړیالانو ته د ګلونو هارونه ورپه غاړه کړل، ماهم په خپل وار سره اول نمره، دویم نمره او دریم نمره ته د ګلانو څو ارزان بیه هارونه ډالۍ کړل. په دغه وخت کې درنو فکرونو له ځان سره مېلمه کړم . په زړه کې مې وویل: دغه ممتاز زده کړیالان هم زما په څېر انسانان دي، زما همزولي او ټولګیوال دي، دا چې دوی ستاینلیکونه اخلي، نو ولې زه ستاینلیک نه اخلم؟
زه لا هم په دې سوچ و فکر کې وم چې کوم شخص مې په ولي( اوږه )لاس کېښود، د فکرونو له جزیرې څخه رابهر شوم، ومې کتل چې ټولګیوالو د ممتازو زده کړیالانو سره وار په وار انځورونه اخیستل زه هم هغوی ته ورنیږدې شوم په یاد مې دي چې د دریم نمره تر څنګولاړ وم، هغه ستاینلیک چې د نوموړي په لاس کې و، ورته ځېر شوم، په دغه وخت کې مې اسمان ته وکتل په ډېره عاجزۍ سره مې په زړه کې خدای ته د خپل زړه حال په دې ډول بیان کړ: خدایه ! ته په هر څه قادر یې، د ډېرو ستر ارمانونه دې ورپوره کړي دي، نن دې د یو ګناهګار بنده یو سوال په خپل دربار کې قبول کړه! خدایه ! ما هم د دوی په څېر د دریم نمرګۍ په ستاینلیک ونازوه!
وختونه و ورو ورو تېریدل لنډه دا چې د څلورم سمستر ازموینې هم پیل شوې خدای شته د نمرو فیصدي مې ډېره ښه روانه وه .کله کله به راته ملګرو د تشویق په موخه د اول نمره ګۍ زیري راکول ما به هم له هغوی څخه زړه نا زړه مننه کوله په زړه کې به مې ویل دریم نمره دې شم خو چې ستاینلیک واخلم.
خدای(ج ) ته به منظوره وه چې د ټولګي اول نمره شوم خو له بده مرغه د ستاینلیک د لاسته راوړلو هیله مې پوره نه شوه .په دغه کال د ممتازو زده کړیالانو د تشویق په موخه د ستاینلیک د ورکړې مراسم تر سره نه شول. ما هم همت و نه بایله او د پنځم سمستر د ازموینې په انتظار کې وم، تر دې چې د پنځم سمستر ازموینې هم پیل شوې .د درسونو زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو ته مې دوام ور، ځکه چې ما غوښــل درس په عملي بڼه زده کړم او د ســتاينليک تر لاسه کول مې هم هيله وه.
د خدای(ج )رضا وه ازمويني په خيرسره تېرې شوې خو بدلون پکې دومره و چې د لومړۍ درجې څخه دويمې درجې ته راولوېدم. خو بيا هم خوښ وم ځکه چې درسـونه مې ښـه زده کړي وو او پوهېدم چې دغه درســونه په اينده کې زما په درد خوري. له بل پلوه راته د ســتاينليک لاســته راوړل هم يقيني وو، خو بيا هم د تېر په څېر د ســتاينليکونو د ورکړې مراســمو ته تدابر و نه نيول شــول. زه ډېر ناهيلی شــوم په زړه کې به مې ويل اول نمره شوې، دويم نمره شوې، خو د ستاينليک د تر لاسه کولو هيله دې لا هم نيمګړې ده.
پر هر حال د خدای شــکرګزار وم، خو دغې نيمګړې هيلې به ډېر ځورولم. تر دې چې د شــپږم ســمســتر ازمويني هم راورســېدې. ما يو ځل بيا په درســونو پيل وکړ، خو د تېرو درسـونو د زده کولو په څېر ژمن نه وم. د ازمويني هره ورځ به راباندې لکه د کال تېرېده. که څه هم سـختې ورځې وې خو خير تېرې شـوې .د درجه بندۍ له مخې دريمه درجه کې بريالی شوم، خو د ستاينليک د لاسته راوړلو نيمګړې هيله مې لا هم په مات زړه کې ځای پر ځای وه. له نېکه مرغه په دغه کال د ستاينغونډې د جوړولو لپاره تدابر ونيول شـول. د نورو ممتازو زده کړيالانو په څېر ما ته هم د ممتاز زده کړيال په صـفت سـتاينليک راکړل شـو. ملګرو او ټولګيوالو راسـره انځورونه اخيستل چې د لومړي کال هغه صـحنه مې فکر ته راغله چې ما د ممتازو زده کړيالانو ســره انځورونه اخيســتل. تر څنګ يې زما هغه نيمګړی او عجب ســوال چې ما خدای(ج )ته کړی و( خدايه ته په هرڅه قادر يې ما هم د نورو په څېر د دريم نمره ګۍ په ستاينليک ونازوه ) ذهن ته راغی.
له ډېر فکر کولو وروسـته دې نتجې او پايلې ته ورسـېدم چې خدای(ج ) را ته د اول نمره مقام راکړ،خدای(ج )راته د دويم نمره مقام راکړ، هغه راته سـتتاينليک هم راکولی شـو، خو د الله( ج) په هره چاره کې حکمت وي او بله دا چې زما سـوال نيمګړی و؛ ځکه چې ما له خدای څخه د دريم نمره ګۍ د ستاينليک سوال کړی و، نه د اول نمره ګۍ او دويم نمره ګۍ د ستاينليک.
نو د خدای( ج )څخه هر وخت او د تل لپاره پوره او بشـپړ سـوال وکړئ نه نيمګړی؛ ځکه چې د رب العزت خزانې پراخې دي کمی پکې نه راځي تاســې يې ترې وغواړئ هغه يې درکوي.
ان شاالله

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دليکوال لنډه پېژندنه**

ځوان او تانـد شاعرشريف الله تنها دجـان محمـد زوی، ديارمحمـد لمسـی اود تـوره بازخـان کړوسی،په کـال (۶۷۳۱ ه.ش) کې د مهـاجرت پرمهـال دکـوزې پښـتونخوا د ديرپـه چکـدرې نـومې سيمه کې نـړۍ تـه سترګې غړولـې دي،نومـوړی اصلّ دشـينکي کـونړ ولايـت دغـازي ابادولسـوالۍ اوسـيدونکی دی چې اوس مهـال دکـونړ ولايـت څـوکۍ ولسـوالۍ دګټـو قلعـه پـه کيمـپ کـې دژونـد ورځـې شـپې سبا کوي،شريـف الله تنهـا ابتدايـه زده کـړې دچکـدرې دسـيمې پـه متواسـطه ښـوونځي کـې تـرسره کـړي اولـه هغـه څخـه وروسـته يـې تريوولسـم ټـولګي پـورې زده کـړې دچکـدرې سيمې دسلمان فـارسي عـالي ض پـه لېسـه کـې تـرسره کـړي دي اوبيـا دخپلـې کـورنۍ سره خپـل ګـران هيـواد افغانسـتان تـه راسـتون شـوی،نوموړی ديوکـال څنـډ څخـه وروسـته دڅـوکۍ ولسـوالۍ دجمعيـت پـه ليسـه کـې شـامل اوپـه (۶۷۳۷ ه.ش)کـال کـې يـې د يـادې ليسـې څخـه دفراغـت سـند ترلاسـه کـړی دی. پـه ( ۶۷۳۱ ه.ش)کـال کـې يـې دکانکورپـه ازموينـه کـې ګـډون کـړی چـې نومـوړی پـه دغـه ازموينـه کـې دسـيدجمال الـدين افغـان پوهنتـون دښـوونې اوروزنـې پـوهنځي د پښـتواوادب څـانګې تـه بريـالي شـوی او پـه ۱۳۹۸ ل کـال لـه يـاد پوهنتـون څخـه پـه کـدري درجـه کـې فـارغ شـوي دی. نومـوړی شـپاړس کلـن وچـې ليکـوالۍ او شا عـرۍ تـه يـې مخـه کـړه اود وخـت پـه تېرېـدوسره يـې د ليکـوالۍ او شـاعرۍ پـه بـڼ کـې نـوي رنګونـه ښکاره شـول .دنومـوړي چـې څـومره يادونـه وکـړم بيـا هـم کمـه ده. مننه

په درنښت

س -سمون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**